انجنیر سید عبدالقادر


۱۰/۰۹/۱۸

## آیا پوهیږي چی دولسي جرگی په راتلونکو مصنوعي ټاکنو کي به کامیابي دکومو اشخاصو په نصیب سي ؟

په دې حقیقت باندي ټول پوهیږو ۰ چی تر یرغل لاندي هیوادونو کښي لاس پوڅي حاکمیتونه دپردو تر مستقیمي مشوري لاندي هروخت وخپلو سیاسي مخو ته درسیدو له پاره ، داسي لوبي را مخ ته کوي ، چی هغو ولسونو او نړیوالو ته داسي وښیي چی دادي ، موږ دولس دپریمانه رضایت په نتیجه کي خپل سیاسي حاکمیت تر لاسه کړي ، او په یوه مشروع حاکمیت کي دخپل ولس له پاره په خدمت کولو باندي لګیا یو ۰ځکه نودا حاکمیتونه دخپلوشومو مخو له پاره داسي هلي ځلي کوي ، چی ولسونه په رواني لحاظ په خپلو تبلیغاتي جالونو کي بند کړي ۰ چی انځورونه بیا په میډیا وو کي منعکس کړي ۰ چی ښه نیږدې مثال یې په افغانستان کښي دجمهوري ریاست ددوهمي دوري له پاره هغه نا مشروع او دشرمه ډکي ټاکني وې ، چی په جمعي رسنیو کي یې هم پوره انعکاس وموند ۰ ولي بیا هم لاس پوڅو واکمنانو دا ټاکني دناټو دشتون په زور مشروع وبللي ۰ چی دا خپله ددغو نا مشروع حاکمیتونو د نه صداقت اوخپل جوړ کړي اساسي قانون ته دنه احترام ښکاره بیلګه ده ۰ چی بیا هم ددغسي مصنوعي دشرمه ډکو لوبو دتر سره کولو وروسته دواقعیتونو څخه په ډیره لیري فاصله کي ځانونه دخلګو ریښتیني استازي اعلانوي ۰ په داسي حال کي چی په هیواد کي لوي اکثریت دجمهوري ریاست و ټاکنو ته حاضر نه سول ، چی د هغه وخت د دولتي رپوټونو په حواله نیږدې ۳۴ فیصده خلګو خپله رایه کارولي ده ، ولي واقعیت خو داوو چی تر ۲۰ فیصده لا هم لږ وخلګو ګډون کړي وو ۰ ځکه نو داسي معلومیږي د ولسي جرګي دټاکنو په دې لوبه کي به دنورو عیني علتونو تر څنګ دبي امنیو له کبله به دافیصدي نوره هم ټیټه سي ۰دا ځکه چی ولس دیر غل تر بیرغ لاندي خپله ښه راتلونکي په دې لوبه کي نه وینې ، ځکه نو دملت په وړاندي به دا ټاکني دهیڅ نوع مصنوعي مشروعیت لرونکي هم نه وي ۰ دپورتنیو واقعیتونو په نظر کي نیولو سره کولایسو ، چی دټاکنو په دې لوبه کي نوماند وکیلان پر څو کټه ګوري باندي وویشو :

۱ ــ بشري او اقتصادي جنایتکاران یا دهغوي معلوم الحاله استازي ۰

۲ ــ دلاس پوڅودولتی واکمنانو استازي.

۳ ــ هغه کسان چی دمادي امتیازونو دتر لاسه کولو له پاره یي دلومړي ځل له پاره ودې لوبي ته ور ډانګلي دي ٠

۴ ــ یو شمیر پاک روشنفکران ددې له پاره چی د ولسي جرګي او دولتي واکمنانو تر منځ ځیني دملي شتمنیو دغصبولو له پاره ځیني پټي معاملي او داساسي قا نون څخه یي سرلغړوني وخلګو ته ښکاره او بیان کړي ، نو په دې پاک نیت غواړي چی ولسي جرګي ته ور ننوزي ٠ ګرچی ددې ګټه ګوري د روشنفکرانو سره د دغسي نظر په هکله زه خپله دنظر یو والي نلرم ، دا ځکه چی دیوه طرفه ددوي دغه کړنه ودې لاس پوڅي حاکمیت ته دمشروعیت ورکول تعبیر کیدلایسي ، ولي دبله طرفه بیا ویره له دې څخه هم ده ، چی دیو لږ شمیر پاکو روشنفکرانو شتون دمفسدو په یوه لویه نا پاکه کتله کي یي تأ ثیرات معکوسه بنه اختیاره نه کړي ٠ دا ځکه چی د ولسي جرګي دتیري دوري ددریم خط دځینو روشنفکرانو تجربو دا ښکاره په ګوته کړل ، چی د دریم خط ډیر شمیر کسان دمادي امتیازونو تر لاسه کولو وروسته د چپتیایي پر لور روان سول ٠ زه ددې نوو نوماندو روشنفکرانو کامیابي دولس په چوپړ کي دپاک خداي ( ج) څخه غواړم ، چی داسي نه سي چی دوی هم خپل اصلي خط پریږدي ٠

په داسي حال کي چی دولسي جرګي د۲۴۹ چوکیو له پاره نیژدي ۲۵۰۰ کسانو ځانونه نومولي دي.

چی ددې جملي څخه دټولټاکنو دکمیسون په حواله نیژدي ۴۰۰ نوماند یي اناث تشکیلوي ٠ په داسي حال کي چی د ذکورو دجملي څخه دا ځل بیا هم لوي اکثریت بشري او اقتصادي جنایتکاران تشکیلوي ٠ ولي متاسفانه دولسي جرګي هغه خونه چی باید دملت پاکه اراده ځیني منعکس سي ، ولي دتیرو پینځو کلونو په درشل کي دناتو تر امنیت او دکرزي تر ږیري لاندي په دې خونه کي نیژدي ۸۰ فیصده داسي بشري او اقتصادي جنایتکارانو ځاي نیولي وو ، چی نیژدي هره ورځ د دې خوني یو ډیر شمیر کسانودیو شمیر معلوم الحاله دولتي واکمنانو سره په ګډه نه یوازي دملي شتمنیو په غصبولو باندي مصروف وه ، بلکه دا یرغمل سوي ولس یي هم تر جدي توهین او تحقیر لاندي نیولي وو ٠ چی په واقعیت کي ویلایسو چی په تیرو پینځو کلونو کي دا دملت دریښتینواستازو خونه ، د مفسدو جنایتکارانو او غربي تکنوکراتانو تر تا ثیر لاندي دولس په وړاندي دتوطیواو په یوه نامشروع تجارتي مرکز باندي تبدیله سوي وه ٠ دلیکني په دې برخه کي به دافغانستان د اساسي قانون په چوکاټ کي دولسي جرګي دټاکنو لوبه په لنډ ډول تر څیرني لاندي ونیسوو ، او وبه ګورو چی دا ټاکني داساسي قانون سره سمي تر سره کیږي اوکه نه ،او په وړاندي یي کومي ځانګړي ستونځي شتون لري :

۱ ــ دولسي جرګي داټاکني داساسي قانون د۹۷ یمی مادې څخه په ښکاره سرلغړونه تر سره کیږي ٠ هغه دا چی دولسي جرګي د ژمني رخصتي څخه وروسته دجمهوري ریاست له خواه څخه دټولټاکنو له پاره نوي قانون د تقنیني فرمان په ذریعه ولسي جرګي ته دتصویب له پاره ولیږي ، ولي دا دټولټاکنو قانون دولسي جرګي له خوا دوه ځله نیژدي په دوه ثلثه رایه رد کړ ل سوو ٠ ولي بیا هم دجمهوري ریاست مقام دټولټاکنو دانوي قانون په وچ زور باندي په رسمي جریده کي نشر او نافذ یي اعلان کړ ٠ او دا ټاکني دهم دې غیر قانوني فرمان له مخي تر سره کیږي ، ځکه نو د اساسي قانون پر اساس دا ټاکني غیر قانوني ویلایسو ، او دهیڅ نوع مشروعیت لرونکي نه دي ٠

۲ ــ ا منیتي ستونځي : دولسي جرګي دټاکنود لوبوتبلیغاتي کمپاین په داسي حال کي شروع سوو ، چی په هیواد کي امنیت هره ورځ مخ پر خرابیدو روان دي ٠ چی ولسي جرګي دروان کال دغبرګولي پر۲۶ مه د ملي دفاع او

کورنیو چارو وزیران د راتلونکو ټاکنوله پاره دپوره امنیت دراوستلو دپلان دتوضیح له پاره بللي وه ۰ چې دکورنیو چارو دوزارت سر پرست ( منیر منګل ) دخپلو خبرو په توضیح کښي دامنیت په هکله داسي وویل ۰

د۳۶۴ ولسوالیو څخه ۱۱۴ دجدي او ۵۰ ولسوالي دمنځی کچي ۱۹۱ دټیټي کچي دګواښونو سره مخامخ دي ۰ او هم يي وويل چی درايي ورکووني ۶۸۳۵ مرکزونو دجملي څخه ۳۸۴۰ تر لوړ او ۲۹۸ تر متوسط او ۱۹۱۲ تر ټيټ ګواښ لاندي دي ۰

په داسي حال کي چی دټاکنو دترسره کیدوتر وخت پوري دساعتونو په شمیر وخت پاته دي ولي دهیواد په ځینو جنوبي برخو کي په ځانګړي توګه دکندهار دتاریخي ولایت په ځینو ولسوالیو کي ، چی ولس د یرغلي او داخلي مسلحو قوتونو تر ډیرو سختو هوايي او ځمکني بمباردونو لاندي داسي راغلي دي ، چی دداخلي او بهرني ژور نالستانو څخه يي هر څه پټ ساتلي ، ولي دکندهار والي بیا په ډیره بي شرمانه ډول د ورځي پر ۲۵ تمه ددې جنګي عملياتو شروع د ټاکنو دامنیت له پاره لازم او مؤ ثره وبلل ، نوپه داسي دبشري جنایاتو څخه ډکو حالاتو کي به کوم سالم وجدان دا قبوله کړي چی دکندهار دولایت خلګو په آرامي سره په ټاکنو کي اشتراک وکړ، او خپله رايه يي ورکړ ل ۰

په داسي حال کي چی دټاکنو دکمیسون رئیس داګست پر ۲۱ تمه دهیواد په ځینو برخو کښي يي د۹۳۸ درايي ورکونکو مرکزونه چی په مجموع کي ۲۴۴۸ درايو ورکونکو محلونه کیږي دبندیدو اعلان وکړ ۰ په داسي حال کي چی دغزني ولایت دکابل په ډیر نیژدي ګاونډیتوب کي قرارلري ، د رايی ورکوني د ۱۰۷ مرکزونو دبندیدو اعلان هم کړي دي ۰ چی درپوټونو له مخي ودې مرکزونو ته باید یو نیم میلیون خلګو خپلي رايي کارولي واي ۰ ولي په اوس مهال کي دامنیتي ستونځو له کبله ددې حق څخه محروم سول ۰ په داسي حال کي چی دامریکا د يوي څارونکي ډلي دنوي خپور سوي رپوټ له مخي چی دسیپتمبر پر ۱۳ مه دځینو جمعي رسنیو پر مخ راوتلي ،او داسي يي لیکلي دي :

چی دافغانستان دانتخاباتو بهیر له سختو او ژورو ستونځو سره مخامخ دي ، اود رپوټ په بله برخه کي بیا لیکي ، چی دا انتخابات ښايي هغسي ګډوډ اود درغلیو ډک وي ، لکه چی دتیر کال دولسمشري انتخابات وه ۰ اوهم داسي مخ ته ځي چی په افغانستان کي دثبت شوورايه ورکونکو باوري لیست هم شتون نه لري ، او وايي چی دانتخاباتو کمیسون بي پرې نه دي ۰

دپورتنیو عیني واقعیتونو په نظر کي نیولو سره داسي نتیجه تر لاسه کولايسو :

ـــ دافغانستان په هر ګوټ کي چی دا لوبه تر سره کیږي ،د هغو نوماند ووکیلانو درايو صندوقونه به ډکیږي کوم چی دهغه محل وحاکمیت ته یعني ( محلي جنګ سالاران ، یا د لاس پوڅي حاکمیت واکمنان ) ته يي سرونه ټيټ کړي اوخپل تر منځ يي دنوو معاملو قراردادونه کړي وي ۰

ـــ ولي يوازي دکابل په ښار کي به یوه اندازه دخلګو درايو تر څنګ دهغو اراده هم انعکاس پیدا کړي ۰ دا ځکه چی د کابل په ښار کي نظر ونورو ولایتونو ته د روشنفکرانو د مختلیفو نظرياتو تر څنګ دهغو دشمیر اندازه هم لوړه ده ، ځکه نو کیدلايسي چی ځیني پاک روشنفکران دخلګو دارادي په نتیجه کي راميدان ته سي ۰ ولي په نورو ولايتونو کي دروشنفکرانو په وړاندي ددې چانس فیصدي هیڅ شتون نه لري ۰ ولی باید ووايو چی په دې لوبه کي به دکرزي او د ( جمیعت اسلامي ، نظار شورا ) دډلو تر منځ به مسابقه په ډیر شدت سره داسي پر مخ روانه وي ، او هره ډله به کوښښ کوي چی څنګه کولايسي دمخکنیو ټاکنو په څیر په درغلیو باندي دورځي او په ځانګړي توګه

دشپي له خواه درايو په صندقونو کي دخپلو ملګرود رايو کارتونه ور ډير کړي ، چی دراتلونکي له پاره دخپلو ناپاکو مخو له پاره لاره هواره کړي .

تمت باالخير

**يادداشت:**

همان طوری که همکار گرامی ما آقای انجنير" سيد عبدالقادر" نيز نوشته اند:

"دا ځکه چی ديوه طرفه ددوي دغه کړنه ودي لاس پوځي حاکميت ته دمشروعيت ورکول تعبير کيدلايسي"

پورتال افغانستان آزاد– آزاد افغانستان" نفس شرکت در انتخابات يک ادارۀ مستعمراتی را به مثابه تأئيد ضمنی آن اداره و درنتيجه مشروعيت و قانونيت بخشيدن به تجاوز و اشغال کشور دانسته، آنرا تبارز "خيانت ملی" در عمل به شمار می آورد. ما را عقيده بر آن است که هيچ نوع بهانه و يا انگيزه ای نمی تواند، دست يازيدن به چنين خيانت آشکاری را توجيه نمايد. در نتيجه تمام آنهائيکه آگاهانه در چنين جريانی سهيم می گردند، صرف نظر از نيات آنها، از طرف تاريخ به حيث مؤيد تجاوز و اشغال ئ در نتيحه "خاين ملی" شناخته می شوند.

اداره پورتال AA-AA